
ډاکټر لمر ۲۰۱۳/۰۲/۱۳

# د هېوادپالو ځرګنده وینه او که د مقاومت پټه مینه

ما هېڅکله هم د دې اټکل نه و کړی، چې زموږ افغانان به د ځو لسیزو د سیاسي بربوکی قرباني کېږي، په ایدیالوژیکي اړودوړو کې به لاهو کېږي او د بهرنیو یرغلګرو د نښې ښکار به وي، چې هېواد به مو په کنډوله اوړي، ځوانان به مو شهیدان کېږي، پېغلې به مو رټل کېږي، هېواد به مو له معیوبینو، معلولینو، کونډو، یتیمانو، روږدیانو او لیونیانو ډکېږي! مګر له بده مرغه دغه ټول زموږ په هېواد افغانستان کې پېښ شول او پېښېږي اما د دغو پېښو عاملین، لوبغاړي سرې سترګې ګرځي او یا پرته له محکمې له دې نړۍ وکوچېدل او ژوندي یې لیا مخکې روسیې یا لوېدیز ته پردېس شول او یا یې د افغانستان د تباه کولو لپاره په نویو دسیسو لاس پورې کړ، چې بیا د افغان ملت د ځوانانو په وینو د ظلم ژرندې وچلولې.




د افغانستان غمیزه د غویې د سرې غمیزې له پېښېدو راپیل شوه، چې زما هم له همغه لومړیو ورځو ورسره کرکه پیدا شوه. زه لیا ماشوم وم، مګر نه د فیوډال په معنی پوهېدم، نه هم د زمیندار او نه هم د بډای او سرمایه دار په انګازه، خو زما استادانو زه په دغه نومونو یادولم، چې یوې به یې راته ویل: شما (فیوډال ها) او بلې به یې راته ویل شما (سرمایه داران)! خو زه لیا په خپلو ماشومو ماغزو نه پوهېدم، چې دوی ولې ما ته دغه خبرې کوي، خو هغه مهال په کابل کې د شهید سردار محمد داود په موده کې د کانکورځېلو لپاره د انقلاب د لیسې د جوړېدو آوازه هم خپره شوه او زموږ په ښوونځي کې هم دغه لیسې ته پیسې ټولې شوې.

په ټولګي کې زموږ یوې پرچمې معلمې ټولو ته وویل، چې هر څوک دې له خپلې وسې سره پوره د دغه لیسې په جوړولو کې مرسته وکړي، چې بله ورځ چا پنځه افغانۍ او چا هم لس افغانۍ راوړې وې. مګر زموږ پرچمې استادې په ټولګي کې څو تنه په نښه کړل، چې دوه غبرګولي د یو سناتور زامن ول او دوه نور د ولایت د عامې روغتیا د سرطبیب زامن ول، یو بل بیا د کوم بل زاړه لوړپوړي چارواکي زوی وو، خو ما ته یې هم ګوته لکه کړه او راته یې وویل، چې: شما پسران سرمایه داران و فیودلان هستېد و باید زیات کمک کنېد! بیا یې ما ته مخ کړ: خودت فیودالک فردا مبلغ یک هزار افغاني اعانه برای کمک به مکتب نو بیاري! خو غریبان یې بیا له مرستې معاف کړل، چې زما په ذهن کې یې د سوسیالیزم د دوالیزم یعنې د «زه او ته» ځپې یې راخپرې کړې!

زه د زرو افغانیو په کچه او اندازه هم نه پوهېدم، خو د فیوډالک په معنی هم پوه نه شوم. ماسپښین کور ته راغلم او مور ته مې دغه کیسه وکړه، خو مور مې راته سپارښت وکړ، چې مابښام دې بیا پلار ته ووایه. مابښام وروسته له ډوډۍ خوړلو مې پلار ته دغه خبره یاده کړه. د پلار مزاج مې چنداني ښه نه شو. ما ته یې وویل، چې ستا پنځه خویندې او ورونه په ښوونځیو کې دي، نو نن ټول همدا یوه خبره راته کوي، چې له پلاني یې دومره پیسې مرسته غوښتې او له بیستانکي یې دومره او ته وایې چې زر (۱۰۰۰) افغانۍ یې درڅخه غوښتي دي، خو زه پخپله هم ولایت اعانه ورکوم.

زویه زر (۱۰۰۰) افغانۍ ښځې ډېرې پیسې دي، دومره پیسې زه نه شم درکولی، خو سبا بیا ۵۰ افغانۍ ښوونځي ته یوسه، زه ورته په ژړا شوم او ورته مې وویل، چې ما ته یې د سرمایه دار زوی وویل، بیا یې فیوډالک هم راته وویل او ډاربړم، چې له ښوونځي مې و نه باسي. پلار مې دلسا کړم او د ۱۰۰ افغانیو اجازه یې راکړه، چې بله ورځ به یې ښوونځي ته وړم. سبا ته یې زموږ د دري ژبې لوست وو، نو په ټولګي کې د پیسو ټولولو لړۍ پیل شوه. ما ورته وویل، چې زه بله ورځ ۱۰۰ (سل افغانۍ) راوړم، مګر معلمې راته وویل، چې خودت باید یک هزار افغاني بیاري، کم خو ندارین، نصف شار از شماست!

زه ژړه نا ژړه شوم، چې څه وکړم، مګر زه چې سبا درملتون ته ولاړم، نو له سیفه مې د لسګونو د نویو لوټونو یو بنډل راپورته کړ او ښوونځي ته مې یووړل، خو پلار مې له پېښې خبر نه کړ، یعنې د لومړي ځل لپاره مې په شعوري توګه غله وکړه! ما پیسې په ښوونځي کې همغه پرچمې معلمې ته ورکړې، خوله یې راته جینګه کړه او سبا ته یې په اخبارونو کې خپاره کړي ول، چې یو شمېر متعلمینو د انقلاب د لیسې سره تر ۱۰۰۰ افغانیو هم مرسته کړې ده! چې د اخبار له دغو کرښو ډېر زورېدلی هم یم!

د انقلاب بربوکی وه. د وژلو آوازې او انګازې خپرې وې. د فرمانانو کیسې اورېدل کېدلې. د خلکو د ځمکو وېشل ول او د فیوډالانو ډبول او په کوڅو کې د مړیو موندل ول او د خلکو ذهني ښېرول! لیا د انقلاب لومړنۍ شپږ میاشتې نه وې تېرې، چې


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

خلقيانو په پرچميانو پسې راواخيستله او زمونږ د دري ژبې معلمه چې مستوره نومېده، زمونږ سره خدای پماني وکړه او له خپل مېړه او دوو زامنو سره يو ځای چکوسلواکيا ته کډه شوه، چې ببرک کارمل هم د دغې ډلې مل شو او په چکوسلواکيا کې سفير او بيا کارغل شو. دغه معلمه زما له سترګو پوپناه شوه، مګر د انقلاب برېوکۍ ټوله ټولنه پر سر واخيستله!

زمونږ له کورنۍ ډېر مشران د ملا، منصبدار او عالم په نامه ووژل شول، چې د ګنشمېرو يې تر ننه نه مړي معلوم دي او نه يې قبرونه. زما د پلار ملګري يو په بل پسې يا ورکېدل او يا هم له ښاره کليو او غرونو ته تښتېدل. د ظلم کيسې هلته او دلته خپرې وې. د اسلام ضد کړنې هم خپل اوج ته رسېدلې وې، د چا به لور له کوره وتښوه او د چا به زوی انقلابي شو او کلاشينکوف به يې کور ته راوړ او يو او يا بل به خپل تربور او يا بل خپل د کلاشينکوف د ګوليو نښه کړ او رزق به يې په دې دنيا کې ورته ختم کړ.

د کابل آوازې هم تودې وې.  په کابل کې هم ناآرامي وه، کله به رېشخور راپاڅېدلو، کله به قرغه په غورېدا شوه او کله به بلاحصار غوبل جوړ کړ، مګرپه ارګ کې هم سوله نه وه. پرچمي کارمل او دارو دسته يې بهر ته ولېږل شول، داود تړون يې ووژل شو او نور محمد تره کی يې هم خفک شو، نو دغه کاني رواني وې، چې په افغانستان د ۱۹۷۹ د ديسامبر په ۲۵ د روسانو بربنډ يرغل وشو او پر حفيظ الله امين د پرچميانو څرګند تېری وشو. د پرچميانو سياسي پټې دسيسې هم پيل شوې. اوس نو د سور مخو روسانو خبرې زياتې شوې. زه سهار ښوونځي ته پر بايسکل روان وم، چې د ښار په ځينو سيمو کې مې په روسي عسکرو سترګې ولګېدلې، چې شنې سترګې يې نيولې وې، خو زما بيا له انقلابيونو سره کرکه خپلې انتها ته ورسېدله او زما د سياسي ذهنيت برېوکۍ هم راوخوټېدله!

د روسانو له راتګ سره يوه لاسپوڅې اداره په افغانستان واکمنه شوه. هر څه بدل شول، خبرې دروغ شوې، چې بيا دوی ورته تبليغات زهراګين ويل، د خلکو سترګو ته د خاورو شنل پيل شول او ټولنه د حزبي، انقلابي، اشرار، مجاهد او اخوان الشياطين وارشو په سره واخيسته. که مخکې يو يو تن وژل کېدلو، خو اوس د سرې لښکرې له راتګ سره په کليو، باندېونو او رغونو کې روسي ټانګونه ګرځېدل او په آسمان کې مو د جېټ الوتکې او ميګ هېليکوپټري الوتلې. زمونږ ځوانان د مرميو غوښنه شول او کلي مو د بمونو نښه شول! خو د حزب تراز نوين مو د ښوونځيو د سبق برخه شوه!

ژوند داسې راغی، چې د خپلوانو او کورنۍ له مخالفت سره بيا هم زه شوروي اتحاد ته ولاړم. پلار مې راته وويل، چې ستا اړيکې له مجاهدينو سره، ستا شهيد شوي همټولګي، خپلوان، ملګري او زمونږ د کورنۍ تريتام شوي خپلوان! آيا دغه ټول له هېرې وباسې او د دوښمن ملک ته ځې. ما ورته وويل: پلاره تاسو پوهېږئ، چې له اطرافه زه کابل ته ولې راغلم، ځکه زما له لاسه يې تاسو څو ځله خاد ته بوتلی، کور مو څو ځله چاپه او تلاشي شو، زما نه هم تحقيقونه وشول او په ښوونځي کې سايره منيژې په کراره نه پرېښودلم او هره ورځ به يې د اشرار په نامه ادارې ته بوولم او تلاشي کولمه يې، بس دغه مې هلته حال وو! له دې کبله چې نور ژوند راته ترېخېدلو، نو زه کابل ته راغلم او تاسو خو خبر ياست، چې زما د بابا کور، چې زه ورسره دلته اوسېږم تر اوسه څو ځلې چاپه شوی، په نيمه شپه کې کور محاصره کړي او لکه غلو غوندې په دېوالونو راواړي او تلاشي پيل کړي، چې ټول بيا د وېرې شپې تېروي!

زما ماما يې څو ځله خاد ته بوتلو او څو ورځې مونږ نه پوهېدلو چې چېرې دی! نيژدې ول، چې پولتخنيک په وروستي کال پرېږدي او د ډيپلوم له دفاع هم تېر شي. زه يې تر اوسه څو ځلې له ماما سره مې يو ځای د تحقيق لپاره خاد ته بوولی يم. د پولتخنيک په انستيتوت کې زما ژوند نه دی ژغورل شوی. د ساختماني پوهنځي د خاديستانو تر څارنې لاندې يم. د پوهنځي له منشي رفيق سميع او يو شمېر نورو لکه رفيق اسد ستېزا، رفيق نور اواستاد شکيلا سره مې څو ځله په سياسي موضوعاتوخوله بدله کړې ده او دلته هم راته وايي، چې: چشمايت چشمای اشرار است!  دغه خلک زما ماما ټول پېژني، چې د اشرار په نامه مونږ غوندې خلکو ته دسيسې جوړوی، نو زما سره وېره شته، چې فاکولته به دلته په افغانستان کې پای ته و نه رسوم! ځکه شوروي اتحاد ته زما له تګ سره مخالفت مه کوی! تر دې چې د کمونيستي ايډيالوژي له چوکړه ګانو سره دلته سرګردانه وم، نو ښه به دا وي، چې د کمونيستي يا سوسياليستي نظام په منځ کې وم او هلته به بيا ګورم چې څه وکړم! تر څه وخته به دلته د پيسو او واسطو په زور ژوند کوم!

په دې ډول زه د ۱۹۸۵ ميلادي کال په بهير کې له افغانستانه شوروي اتحاد ته ولاړم. د مسافري ژوند مې په ډېره تنګۍ ځواني کې پيل کړ. په شوروي اتحاد کې هم د افغاني حزبيانو او روسي استادانو راته پام شو، خو بيا هم تر افغانستانه ډېر آرامه شوم. يو شمېر افغاني حزبيانو چې شيطانتونه يې کول، نو هڅه مې کوله، چې ګشتوګذار ورسره و نه کړم او په خپلو درسونو مې ډېر زيار ايستلو، خو بيا هم له ځينو ستونزو سره مخامخ شوم. هغه روسانو چې په افغانستان کې يې عسکري کړې وه، د دې زغم يې نه درلودلو، چې ورته ووايې چې دوی په ناحقه په افغانستان کې په جګړو بوخت ول او يا بوخت دي، نو د انتي سوېټيکوس ټاپه به يې درولګوله.

---


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له مونږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

د دغه څرګندونو په ترڅ کې لیا په لومړیو وروځو کې یو شمېر روسي (له افغانستانه بیرته را ستانه شوي) عسکر زما دوښمنان شول او ما ته به یې باسماچ ویل! خو ما پر ځان ډېر پام کولو، ځکه په ۱۹۸۴ کې لیا یو شمېر افغان محصلین د شوروي ضد په نامه په دسیسو کې وژل شوي ول، مګر په افغانستان کې هم زموږ کورنۍ په کرار نه وه، یو شمېر د مجاهدینو سیمه ییزو قومندانانو زما پلار ته ګیله کړې وه، چې زوی دې ولې شوروي ته تلل دی، خو زما پلار ورته ویلي ول: «حضرت موسی (ع) هم د فرعون په کور کې لوی شو، خو پیغمبر شو»! زه مې د پلار په دغو څرګندونو تل ویاړم، چې داسې یو په زړه پوري او فلسفي ځواب یې ورکړی وو!

د ۱۹۸۶ میلادي کال یو مازدیګر مخ پر لیلیه روان وم، چې د روسي ژبې استاد (ولنتین ارکادیویچ) مې مخې ته راغی. وروسته له روغبړه یې زېرې راباندې وکړ، چې په افغانستان کې ولسمشر بدل شوی دی. زه لومړی په سوچ کې ولاړم، چې څه یې راته وویل او بیا مې وپوښتلو، چې څنګه او څوک نوی ولسمشر دی! استاد مې راته وویل، چې د کارمل پر ځای ډاکټر نجیب الله د مرکزي کومېټې منشي او ولسمشر شوی دی! له یو پلوه مې له خاد سره کرکه په ذهن کې تېره شوه او له بل پلوه مې د پښتو مینې زړه په درزا کړ! خو هغه مهال مې دومره وویل، چې ډاکټر نجیب ځوان دی، احساساتي دی او د خاد مشر وو، چې کېدی شي په ټولنیز ژوند کې ډېر توپیر رانه شي!

استاد مې خبرې را پرې کړې او خپلې خبرې یې وغزولې. نه دغه کار د شوروي اتحاد د کمونیستي ګوند سره په تفاهم کې تر سره شوی، نو دلته هم دګلاسنوست او پیریسترویکې سیاست پلی کېږي او هلته په افغانستان کې به هم ډېر مثبت بدلون راشي او د سږ کال تر جون میاشتې به د سرو (روسي) ځواکونو لومړني شپږ باتلیونه له افغانستانه راووځي او افغانستان ته به هم سوله راشي! ما د افغانستان د خپلواکي پټ احساس د روسانو د وتلو په اړه په نېغه څرګند نه کړ، خو استاد ته مې وویل، که روسان زموږ له خاورې ووځي، نو د ټولو په ګټه ده!

د ډاکټر نجیب الله د سولې د سیاست آوازې هم خپرې شوې. بیانیې یې په اخبارونو کې چاپ شوې، چې بهر تر موږه هم راورسېدلې، مګر زما ذهن تل مشکوک وو، ځکه زما مخې ته د هغو شهیدانو یادون درېدلو، چې په ناحقه یې وینې تویې شوې وې او یا زما هغه خپلوان یا همټولګیان چې په زور عسکري ته بوول شوي ول او بیا په ماینونو کې الوتلي ول، چې چا ژوند، چا پښې او چا لاسونه له لاسه ورکړي ول. یو شمېر نور همځولي مې یا د خاد په زېرخانو کې ورک شوي ول او نور بیا د تل لپاره له افغانستانه نورو ملکونو ته پردېس شوي ول یا له جهادیانو سره په جهاد ورګډ شوي ول او روسي مرمیو یې ټټرونه سوروي سوروي کړي ول، چې د افغانستان هر غاټول یې په وینو سور شوی وو، چې د دښتو هر غاټول به مې سترګو ته ودرېدلو او په سوچونو کې به لاهو شوم!

وروسته له دې چې موږ د آماده ګي پوهنځي پای ته ورسولو، نو د پوهنځي د اداري له غوښتنو سره سم یو شمېر ممتازو محصلینو باید د فراغت په جشن کې خبرې کړې وی، چې زه یې هم د خبرو لپاره ټاکلی وم. د جشن په ورځ تر ۵۰۰ تنه راغلي ول، زموږ استادان د څوکیو په لومړي کتار کې ناست ول. د جشن د خبرو برخه پیل شوه. هر فارغ محصل د خپل ملک په اړه خبرې کولې، له استادانو یې خوښې کوله او د راتلونکو پوهنتونونو خوبونه یې بیانول. په دغه لړ کې زه هم دریځ ته وروغوښتل شوم، ما هم خپلې خبرې د افغانستان او شوروي اتحاد تاریخي اړیکو ته ځانګړې کړې وې، چې وار مې راورسېدلو، نو په خپلو خبرو مې پیل وکړ.

زما خبرې هم لکه نورو غوندې د لاسونو له پړکا سره بدرقه کېدلې. زه د دریځ شاته درېدلی وم او د اورېدونکو سترګې، خوځېدنې او عکسالعملونه مې څارل. زما د وینا په یوه برخه کې داسې راغلي ول: افغانستان او شوروي اتحاد ډېرې ښې ګاونډیزه اړیکې درلودلې، لیا په ۱۹۱۹ میلادي کال شوروي اتحاد لومړنی مملکت وو، چې د افغانستان خپلواکي یې په رسمیت وپېژندله او افغانستان هم لومړنی بهرنی مملکت وو، چې شوروي اتحاد یې په رسمیت وپېژندلو.  شوروي اتحاد په افغانستان کې ډېرې عامالمنفعه پروژې پلې کړې دي، چې د افغانستان په هوساینه، پرمختګ او اقتصاد کې یې غوره اغېز درلود. د دغو نېکو کارونو تر څنګ د افغانستان او شوروي اتحاد په اړیکو کې ترینګلې پېښې هم شته، چې باید یادې یې کړم.

لاسونه مې په دریځ کېښودل. پښې مې په رېږدېدلو شوې. په مجلس کې کراري شوه او ما وویل: د افغانستان او شوروي اتحاد په تاریخ کې توره پاڼه هله رامنځ ته شوه، چې په ۱۹۷۹ میلادي کال د شوروي اتحاد کمونیستي ګوند له پرېکړې سره سم د سرې قوا محدود عسکر افغانستان ته واستول شول، نو دغه یوه ډېره لویه تاریخي تېروتنه وه، چې تر ننه زموږ او د شوروي اتحاد خلکو ډېرې لویې قربانۍ ورکړې دي! ستاسو له توجو ډېره مننه! زما مخ سور شو، ځان مې تُود شو او پښې مې بې سېکه شوې. سترګې مې په خلکو وغړولې. ټول چوپ ناست ول، داسې یو سکوت وو، چې تا به ویل ټول ګنګل شوي دي. سترګې مې د استادانو د ناستې لومړي کتار ته واړولې. ټول کرار ول او سترګې یې ما ته نیولې وې. زه او زما د تاریخ استاده سترګو په



افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

سترګو شولو، دا په شوندو کې موسکې شوه، له ځایه راپورته شوه او لاسونه یې وپړکول. د مجلس سکوت مات شو، لاسونه په پړکېدا شول او د خبرو بوړنېدا شوه!

د شوروي اتحاد د ټولني د تاریخ استاده ما ته راروانه شوه، څنګ ته مي راغله، لاسونه یي زما په اوږو کېښودل او را ته یي وویل: مه وېرېږه، څه چې تا وویل ستا نظر دی، تریخ واقعیت دی او د دا ډول خبرو کول ځانګړی جرئت غواړي! زه پر تا ویاړم، زه ټل ستا سره یمه او مرسته درسره کومه! زما پښنو کي لږ دمه پیدا شوه او د ځان رېږدېدل مي کم شول، خو استاذې مي میکروفون راڅخه واخیست او زما د خبرو یې ستاینه وکړه او ټولو ته یې د فراغت مبارکي وویله! جشن پیل شو. د جشن په ترڅ کي ډېر پردي ځوانان زما څنګ ته راغلل او د زړه خواله یې راسره وکړه، خو یو شمېر روس پلوو بیا خپله کرکه هم رانه پټه نه کړله!

د مرحوم ډاکټر نجیب الله سیاسي ژوند او دولتي اداره مي د اخبارونو له لارې څارله. ورته خوشبین وم او د دې امېد مي درلودلو، چې افغانستان کي به بینالافغاني تفاهم رامنځ ته شي او د افغانستان خلک به آرامه شي. د افغانستان د دولت سیاست او هلې ځلې به ټل د محصلینو په غوندو کي بیانېدلې، چې په ګڼشمېر غونډو کي د محصلینو د اداري په غوښتني ما هم دمرحوم ډاکټر نجیب الله خبرې محصلینو ته آورولې. د محصلینو په منځ کي یو ځوان پکتیاوال محصل هم وو، چې کله به ما د مرحوم ډاکټر نجیب الله بیانیه ولوستله، نو بیا به دی ما ته راغی او ویل به یې: یره ده ته چې خبرې کوې، زه پکر کوم، چې تلویزیون ته ګورم او ډاکټر صیب راته غږېږي!

د روسانو د لومړنیو ۶ بتالیونونو وتل پیل شول او زما یو ملګري محمد یاسین به تل د روسانو د وتلو د تلویزیوني راپورونو زېرى راکولو او راته به یې ویل «اي اخوان الشیاطین» بیا که راپور برآمدن روساست!. یاسین د کارمل له ډلې وو. په خټه پنجشېری وو، خو له ډاکټر نجیب سره یې کرکه درلودله. زما سره یې تل د پښتو او فارسي بحث کولو. ده به را ته ویل، چې: نان در فارسي، نان در ازبکي و شما پښتونا بازمېګین «ډوډۍ»، بخې وردار پنډکي ته که حرف های فارسي ماره ګرنګ کرده! مګر ډېر مېړنی ځوان وو او زما د جانانه بنډار ښه ملګرى. زه یو کال وروسته له هغه ښاره بل چېرته کډه شوم. د یاسین سر د کارمل میني داسې چومجن کړی وو، چې وروسته مي بیا واورېدل، چې هغه د پوهنځي له کوم استاد سره په دغه موضوع شخړه کړې وه او استاد یي په څوکی پر سر وهلی وو، چې استاد یو روغتون ته او یاسین د تاشکند یو جېل ته استول شوي ول. یاسین هلته څو کاله بندي وو، خو اوس یې له قسمته نه یم خبر، چې لیا هم د خپلې میني ابتر دی او که نه! خو د روسانو د وتلو زېرى یې پر ما ښه لګېدلو!



د ۱۹۸۹ کال د فبروري ۱۵ نېټه وه، چې ماښام ناوخته له پوهنتونه لیلیې ته راستون شوم، لیا مي ډوډۍ نه وه خوړلې او پخلنځي ته روان وم، چې نور نومي محصل، چې احساساتي به شو، نو تل به یې ویل: مه سګ زنجیر به ګردن حکمتیار هستم! راباندې غږ وکړ: اي اوغان، اي اشرار... او شاغلی بیا اینجه! ما ورته وخندل او د کوټې په لوري یې ورروان شوم، چې ګورم په تلویزیون له افغانستان د وروستي روسي عسکر د وتلو راپور په خبرونو کي ښیي، نو ما او نور آغا یو او بل ته د افغانستان د خپلواکي مبارکي وویله! ما مي په خپلو سترګو باور نه کولو، چې افغانستان بیا خپله خپلواکي د شهیدانو په وینو وګټله! د یو څو شیبو لپاره چوپ پاتي شوم! زړه مي راغونډ شو، نور نو په ګوګل کي نه ځایدلو، ما وېل چې اوس به نو له خوښي چوي! ستونى مي ډک شو، سترګي مي غیر ارادي له اوښکو ډکي شوې او د خپلواکي اوښکه مي پر ښو په ځنګېدو شوه!

ژوند هم د عجیبه نخرو او پېښو ننداړتون دی. وروسته د روسانو له وتلو ټولو تمه درلودله، چې بین الافغاني تفاهم به رامنځ ته شي، یو سوله ییز دولت به رامنځ ته شي او خلک به په صفا او امنیت کي ژوند پیل کړي، مګر داسي و نه شول. سیمي سره ووېشل شوې، هر چا خپله سیمه کنټرولوله، مجاهدینو هم د بېلتون شورا ګاني جوړې کړې او د افغانستان د وېشلو کیسي پیل شوې. له پېښوره په جلال آباد حمله وشوه، خو پنجابیانو او عامیانو یې بیا لونګونه پرېښودل، له ایرانه په هرات کي غوبل جوړ شو، په بامیان کي وحدتیان راوبوړنېدل او په شبرغان کي ازبکان راوکوټېدل، خوپه مرحوم ډاکټر نجیب بیا خپل خوستي تني کودتاه هم پیل کړه، بس ملت وو، چې د مېچن د دوو تېږو تر منځ اوړه کېدلو او د ځوانانو وینې وې، چې په ناحقه بهېدلې!

په ۱۹۹۲ میلادي کال تاشکند ته تللم. په مسکو کي له یو افغان سره معرفي شوم. په الوتکه کي مي هم څنګ ته ناست وو. له مسکوه تر تاشکنده پرواز ۶ ساعته وو. څنګ ته مي ناست افغان له مسکوه تر تاشکنده د پښتنو سپکې سپورې راته وویلې. له دغه افغانه مي د لومړي ځل لپاره د «شمال عسکر مېزاید و جنوب جنرال میزاید» وراشه واورېدله، چې تر ننه په افغاني سیاسي کړیو کي آورېدل کېږي، مګر مخکي له انقلابه ټول ۸۴ جنرالان ول، خو نن بیا د شمال ټلوالې ۶۶۰۰ بېسواده جنرالان یا پرته له مسلکي زده کړو په ننني لاسپوڅي دولت کي راجستر دي، نو اوس زه هم نه پوهېږم، چې «کجا چي میزاید!». دغه زما لارمل


افغان جرمن آنلاین په درښت ناسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

افغان مخکي پخپله هم منصبدار وو، خو په رتبه یې له کوم چا سره شخړه کړې وه او له منصبداري تېر شوی وو، خو مخه یې آزاد تجارت ته اړولې وو.

په تاشکند کې مې د ټکسي پیسې ورکړې، زه له ټکسي ښکته شوم. افغان سره مې خدای پاماني وکړه، خو په غوږ کې مې یې وویل، چې زه هم یو پښتون یم او سپارښت مې ورته وکړ، چې: هڅه وکړه خپل احساسات کنټرول کړه! سترګو په سترګو شولو. ده غوښتل ښښنه وغواړي، خو ما ورته وویل، چې د ژوند ښه او بد تېرېږي اما تاسو وایې، چې: زخم شمشیر مېره اما زخم زبان میمانه! نو خوله هم کلا ده او هم بلا! زه ترې روان شوم او دی په ټکسي کې بیرته کېناست، چې څه خیالونه به یې په سرکې تېر شوي وي، نو زه هم نه پوهېږم، خو د کندزي شېرخان، چې بیا فرنود هم پسې شو، یادون یې ډېر کولو، چې ګواکې نیژدې ملګری یې دی!

له تاشکنده زما نیت وو، چې مخ پر افغانستان وخوځېږم. د تاشکند په هوټل کې وم، چې یو افغان ازبک ملګري مې هوټل ته تلیفون راوکړ او پته یې رانه واخیستله. نیم ساعت وروسته هوټل ته راورسېدلو، نو راته یې وویل: قیناغه! بورګه ازومیزده اویمیز بار، سن نمه اوچون هوټل ګه قالپسن! کیل بزله منن، بزدې اویمیز ګه کېتوز! لالا، دلته زموږ کور دی او ته په هوټل کې اوسې! راځه چې ځو خپل کور ته لاړ شو! بس په وچ زور یې خپل کور ته بوتلم. په کور کې یې ښه د ډوډۍ سرشته نیولې وه. زما په ګومان د ننني اکبر بای کشر وروړهم هملته وو او د یو شمېر نورو نامتو ازبکانو خپلوان او زامن هم هلته ول، خو په افغانستان کې د حیرتان د پېښو اخو ډب روان وو او په هر کور کې یې ذهني اغېز په خبرو کې راڅرګندېدلو.

له ازبکو دوستانو سره مې خبرې کولې، نو ورته مې وویل، چې غواړم د حیرتان له لارې افغانستان ته لاړ شم. ملګرو مې افغانستان ته له تګه منعه کړم. یو یې راته وویل، چې له حیرتانه تر مزار ټوله لاره د هزاره ګانو په لاس کې ده، نو د پښتانه په نامه دې و نه وژني! بل یې ویل، چې هلته یو دوه پاټکه د جنبشیانو هم شته دي او جمعیتان هم ډېر دي، نو تر څو دې چې پېژني، خدای مه کړي، چې د دغه غلو له لاسه مړ نه شي او یا د بل څوک مړ نه کړي! او که څوک دې وپېژني بیا هم د مرګ له ګواښ سره مخامخ کېږې، نو له خپل سفره تېر شه، ځکه افغانستان او بلخصوص په حیرتان کې امنیتي حالات ډېر خراب دي.

موږ ټول په خبرو بوخت وو، چې یو بل ازبک مېلمانه خوله خلاصه کړه: پشتوناره ګېلم شان از صفات شمال جمع شده، حالي اکه دوستم اینار ه تا اتک شان مېدوانه! کت یک پتو آمده بودند پس همطور مېرن! په کوټه کې ټولو یو او بل ته وکتل، نو یو بل ازبک دغه خوله خلاصي ازبک ته وویل، چې: داکتر صاحب اوزه بر پشتون! نمه اوچون بو رقم ګپرسن، بو ایخشي ایمس! (ډاکتر پخپله یو پښتون دی، ولې داسې خبرې کوې، دا ښه کار نه دی)، نو کله چې دا ډول څرګندونې واورې بیا نو باید سم فکر وکړې، چې آیا ځان له خطر سره مخامخ کړې او که نه! مګر هغه مهال د دغو ځوانانو څرګندونو زما سره هم د بې امنیتي وسوسه زیاته کړه.

زه د افغانستان له تګه منصرف شوم او وروسته له څو ورځو بیرته مسکو ته والوتلم. لیا میاشت نه وه تېره، چې په افغانستان کې مجاهدینو واک تر لاسه کړ، ټولو ګومان کولو، چې د افغانستان غمیزې ته د پای ټکی کېښودل شو، مګر داسې نه وه، ځکه وروسته د کمونیستانو د غویي له سرې غمېزې د مجاهدینو د غویي شین غوبل پیل شو. افغاني محصلین که مخکې په خلقي، پرچمي، ستمي او اشرار وېشل شوي ول، نو اوس په تنظیمونو سره ووېشل شول، هر چا د خپل تېر رنګ په یو او یا بل تنظیم کې لېدلو، چې پایله یې په محصلینو کې تنظیم پرستي او په افغانستان کې قومپرستي شوه، چې پایله یې د افغانستان بربادي، د لکهاو شهېدانو ترڅنګ د افغانستان ملکولطوایفي شوه، د کمونیستي مهاجرینو څپه هم په خوځېدو شوه، خو د محصلینو او بهر مېشتو مهاجرو افغانانو په منځ کې د بېلتون، سیاسي سلیقې او ژبنیزې لیوالتیا کرښې نورې هم زرې شوې.

په ۱۹۹۶ میلادي کال د چکوسلواکیا د پراګ په ښار کې وم او له خپلو ملګرو سره مو د «BBC» راډیویي خپروني ته غوږ نیولی وو، چې ښاغلي احدي د طالبانو د خوځښت پلوي کوله او د طالبانو برې یې په افغانستان کې د قومي ځواکونو اندولتیا یادوله. لیا دوې ورځې نه وې تېرې، چې له همدغه «BBC» مو د طالبانو لخوا د کابل د نیولو خبر واورېدلو، چې د دغه خبر ترڅنګ یې پرته له محکمې د مرحوم ډاکتر نجیب الله د وژلو خبر هم تېر کړ، چې ډېر زړه بوږنونکی خبر، بشري رزالت او ټولنیز بربریت وو.

د طالبانو له برې سره سم بیا بهر میشتي افغانان په څو برخو ووېشل شول، خو یو شمېر یې د طالبانو پلویان او نور یې د طالبانو ضد دریځ خپل کړ. یو شمېر د مرحوم ډاکتر نجیب وژنه تاریخي برې ګڼلو او د هغه د خاد د ریاست موده یې یادوله، خو نورو بیا د مرحوم نجیب الله وژنه د طالبانو بربریت یادولو، چې دغه لړۍ تر ننه پورې روانه ده. خلک طالبانو ته په تمه ول، چې ټولنیز عدالت به رامنځ ته کړي او په هېواد کې به امنیت راولي او د جهادیانو ډلې ټپلې به ورکې کړي، مګر نه! دوی هم د نرانو په ږېرو، پټکیو، پکولونو او لوڅو سرونو او د نجونو په چادریو، سپینو او لوڅو لنګیو پسې راواخیستله، د بامیان بوتونه یې والوزول



افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

او نړیوالو بنسټپالو ته یې ځای ورکړ، چې پایله یې د افغانستان انزوا، تباهي او بربادي شوه، خو طالبان هم آخر د پاکستان او بسټپالو په کونه ورننوتل، چې د فارسي له اصطلاح سره سم: گشنه در کون تشنه درآمد که نفس هردویش برآمد، چې هم یې ځان غرق کړ او هم دنیا!

د ۲۰۰۱ میلادي کال د فبرورې په میاشت کې د طالبانو د عامې روغتیا وزیر ښاغلی ملا محمد عباس اخوند یو شمېر اروپایي ملکونو ته سفر درلود، چې یوه شپه زه هم ورسره مخامخ شوم. په خصوصي خبرو کې مو ډېر ورته وویل، چې د افغانستان په مقننوي، قضایي او اجرایوي سیستم کې بدلون راولی. په کوڅو او بانډو کې د مجرمینو د ځړولو او لاسونو د پرېکولو نه ډډه وکړی، د افغانستان د ښوونې او روزنې او روغتیا لپاره مسلکي خلک په کار وگوماری، د ږیرو او سپینو څپلیو ناندره ختمه کړی، خو وزیر صیب په خپله ږیره لاس کش کړ او د نورو د ږیرې په اړه یې داسې ځواب راکړ: څوک چې له بهره افغانستان ته راځي، نو ږیره دې پرېږدي، هغه چې کوسه دي، د کوسه توب سند او هغه چې د مخ د پوستکي ناروغي لري د ناروغي سند دې ورسره راوړي، بیا موږ ورته هېڅ هم نه وایو! ما یې خبرو ته غوږ ونیولو، خو گوته په خوله هک پک ورته پاتې شوم! او له ځانه سره مې ویل، چې موږ یې هلک شاه ژړلو، چې ملک شاه یې په خره سور راوست!

د ۲۰۰۱ میلادي کال د سپتامبر د یوولسمې نېټې د پیښې په تړاو د ناټو ځواکونو په مټه د طالبانو واکمني ته د پای ټکی کېښودل شو. بیا د ټولو په زړونو کې د هوسا ژوند، د ټولنیز پرمختگ او د افغانستان د سمې اداري ورمي راپیدا شوې، خو د قسمت جبر په افغانانو بیا نوې کاڼي وکړې. افغانستان بمبارد شو، د څو میاشتو په ترڅ کې په لکهاوو انسانان ووژل شول، تر ۶ لکه نور خلک هم پاکستان ته مهاجر شول، چې په نړۍ کې د افغان مهاجرینو شمېره تر ۷ میلیونو واوښتله. تسلیم شوي طالبان او د شمال سیمو پښتانه د القاعده، باندیست، تروریست او طالب جان په نامه له تېغه تېر شول، چې د قلایي جنگي، د مزار د کانټېنرونو او د لیلا د دښتې ډلوژنې د ظلم د انتها برېبوکی د بشر په ذهنونو کې تلپاتې کړه.



په افغانستان کې لویدیز وهلې امریکایي لاسپوڅي واکمني رامنځ ته شوه، لویدیزوالو بیا هم له افغان ولس سره جفا وکړه، ځکه د حیرتان نازولي اتلان، د جهاد پلاستیکي پرانگان او د کمونیزم تښتېدلي بگېلان یې واک ته ورسول. په ۱۲ کلونو کې په افغانانو د ظلم مېچن بیا وچلول شوه. نه کور، نه وُر، نه رود او نه هم رغونه پاتې نه شول، ټول له خاورو سره خاورې شول. په کورونو چاپې واچول شوې، خلک له کورونو وایستل شول، په یو او بل نامه ووژل شول، په ودنو بمونه واچول شول، ماشومان مو بیا یتیمان شول، نورې خویندې مو هم کونډې شوې او نورې میندې مو هم بورې شوې. تر ۲۰ میلیونه خلک مو د لوږې په کړېښه ژوند کوي او پخپل افغانستان کې مو خلک لیا سیمه ییز مهاجردي، چې په لکهاو یې په کمپونو کې شپې سبا کوي او د ژمي په سړوښه او د دوبي په تودوښه سوځېږي.

د افغانستان اداره په فساد لړلې ده، له ماموره نیولې تر شاه پورې ټول غله دي. څوک روپۍ، څوک مشدۍ او څوک هم ډالر پټوي، چې له دغو حرفوي غلو د گومرکونو بیتالمال هم نه دی پاتې شوی، ځکه د شمال گومروکونو عایدات هم جمعیتانو، جنبشیانو او وحدتیانو په خپلو ډلو وېشلي دي او خپل باندونه یې پرې مضبوت کړي دي. له افغانستان سره د شویو مرستو هم هېڅ عمالمنفعه څرک نه لگېږي، خو د قومانداناانو بنگلي او د رهبرانو شهرکونه هر پلو تر سترگو کېږي. په افغانستان کې شعوري ملي قیام لکه چې په پټه پخېږي او وسله وال مقاومت هم ورځ تر بلې په زور کې دی، هېواد یې په انتهاري جگړو پر سر اخیستی دی، خو ملت ناهیلی دی او د ذهني ښکېلاک په لومه کې ښتی دی، مگر نړیوال او ننني سیاسي اندیوالان لیا هم د افغان ولس په هویت او وینو ملنډې وهي.

افغانستان بیا د یو نوي تاریخي پړاو په درشل کې دی. لویدیزوال او امریکایان بیا د تښتې په حال کې دي، خو لوستي افغانان لیا هم د خپل هېواد د برخلیک په اړه بې تفاوته پاتې دي او یا دا چې د څو لسیزو پېښو لیا هم نه دي راویښ کړي، داسې ښکاري، چې په ټولنیز ژمني خوب ویده دي، یا دا چې د منطق رښکی ترې ورکې دي، چې وروسته له ۲۰۱۴ میلادي کاله به بیا څه کېږي! څوک د غربت په ذهنیت کې لاهو دی او څوک بیا په ډالرو کې لامبو وهي او نور بیا په دوبی کې خرمستي کوي، چې نه یې د دین او نه یې هم د دنیا خیال شته، مگر د افغانستان نوي ټولنیز ناورین ته ډېره کمه موده پاتې ده، خو اوس هم لیا لږ وخت شته، چې د افغانستان ستونزې ته یوه سیاسي لاره ومونډل شي او افغانستان له راتلونکي ناورینه وژغورل شي.

پایله



افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

درنو هېوادوالو**!** افغانستان بيا د نويمو کلونو د ټولنيز غوبل په درشل کې دی. د شمال يو شمېر غوبليانو ليا څه موده مخکې په مزارشريف کې غونډه وکړه، چې د سيمې خلکو ته بيا د بېلتون، ځانغوښتنې او قومي بربريت ذهنيت ورکړي. پاکستان هم د ملي اتحاد تر نامه لاندې مشخص نومونه د سولې په خبرو کې يادوي، يعنې پاکستان بيا د افغان ولس ته د تباهي لومه د بګېلو سياستوالو او شمال ټلوالې په مټو ابېښې ده، نو اوس په افغانانو پورې اړه لري، چې د دغه ستر ټولنيز مسؤليت او سياسي چلند په اړه يو موټی کېږي او که بيا غواړي، چې په ټولنه کې د نويمو کلونو کانې تر سره شي، نو د افغانستان د شخړې د حل لپاره بايد د افغانستان سياسي چارې ليا اوس وسنجول شي او د مقاومت د ډلو تر څنګ بايد افغاني ځانګپوهان، محصلين او روڼاندي په بهر او په افغانستان کې يو سياسي پلاتفورم رامنځ ته کړي، چې خپل انساني، ملي او مسلکي مسؤليت د افغانستان په ژغورنه کې پر ځای کړي.

په درنښت

http://www.youtube.com/watch?v=GtP4j9TDruc

http://www.youtube.com/watch?v=FuydTXjxxoM


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ